مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۰/۱۴

# ابن بطوطه او د هغه افسانوي سفرونه

ما به د ابن بطوطه پر سفر نامه باندي هيڅ ليکنه نه واى کړي، لومړى خو دا چي چنداني علاقه مي نه ورسره درلوده او دوهم دا چي د ليکني لپاره مي ډېر ضروري شيان درلودل او پر دې سفر نامه باندي په ليکنه مي بايد خپل وخت نه واى ضايع کړى. خو لږي ورځي مخکي مي د خپل يوه افغان څېړونکي په يوه مضمون کي د ابن بطوطه په سفر نامه باندي استناد وليدى او د خپلو ځوانو څېړونکو لپاره مي دا لنډه ليکنه لازمه وبلله.
ابوعبدالله محمدبن عبدالله بن ابراهيم لواتي طنجي مشهور په ابن بطوطه په ۷۰۳ هجري قمري يا ۱۳۰۴ ميلادي کال کي د مراکش يا المغرب د طنجه په ښار کي زېږېدلى دى. په ۷۲۵ کال کي يې، چي عمر يې ايله دوه ويشتو کلونو ته رسېدى، د نړى سياحت ته ملا وتړله او تقريباً دېرش کاله له مصر څخه تر هند، سيلون، چين، ترکيې، هسپانيې او ډېرو زياتو ځايونو پوري وګرځېدى. په ۷۵۳ کال کي بيرته وطن ته ستون سو او خپل خاطرات يې محمدبن جزي الکلبي ته وسپارل او هغه يې هم په ډېر لږ وخت ليکنه بشپړه کړه او (تحفته النظار فى غرايب الامصار و عجايب الاسفار) نوم يې ورکړ. چي ښايي پښتو ترجمه به يې « د ښارونو د غرايبو او د سفرونو د عجايبو په برخه کي د سترګو ليدلى حال» وي. د ابن بطوطه کتاب، چي لنډ نوم يې الرحله يا سفرنامه دى، د نړى په ښو ډېرو مشهورو ژبو ترجمه سوى او نقادانو خپل نظرونه ورباندي ورکړي دي. دا بايد په ياد ولرو چي سفرنامه يا الرحله د ابن بطوطه يوازينى اثر دى چي له هغه څخه موږ ته راپاته دى او دا اثر يې هم، د ليکلو لپاره ابن جزي ته سپارلى دى. له دې خبري څخه داسي معلوميږي چي ابن بطوطه پخپله ليکوال هم نه وو.
د ابن بطوطه د سفرنامي ايراني مترجم ډاکټر محمدعلي موحد، د ابن بطوطه پر سفرنامه باندي، په خپله مقدمه کي، وايي چي دا سفرنامه له دوو اړخو تر نورو سفرنامو مهمه ده. لومړى خو دا چي د سفرونو ساحه يې ډېره پراخه ده او د المغرب د طنجه له ښار څخه شروع بيا نو تر مصر، شامات، مکه، عراق، د ايران او يمن ډيري برخي، عمان، د ترکيې ځيني ښارونه او قسطنطنيه، د قبچاق دښت، افغانستان، سند، هند، د هندوستان جنوبي ټاپوګان، چين، اندلس او نيجيريه او نور شامل دي. او دوهم دا چي هغه چي هر څه ليدلي دي په ډېر صداقت يې بيان کړي دي... د سفرنامي مقدمه ص ۲۳
ايراني مترجم ښايي د سفرنامي په باره کي ځکه دومره مثبت قضاوت کړى وي چي ابن بطوطه د ايران په خاوره کي سفرونه کړي او د هغه هيواد په باره کي يې نسبتا زيات معلومات ورکړي دي. مترجم د کتاب په متن کي د ابن بطوطه ټولي تاريخي او جغرافيايي غلطى د توضيحاتو په برخه کي اصلاح کړي دي. په داسي حال کي چي د ابن بطوطه سفرنامه چي په هره ژبه ترجمه سوې ده نو انتقادي نظر ورته سوى او حتى ډيرو ځايونو ته يې د سفر کولو په برخه کي شکونه څرګند سوي او د اسطخري د مسالک و ممالک او نورو اسلامي جغرافيه ليکونکو له کتابونو څخه د نقل کولو تور ورباندي لګېدلى دى. د ابن بطوطه پر ټوله سفرنامه باندي ليکنه کول هم زما تر حوصلي وتلى کار او هم د يوه مضمون تر ګنجايش اضافه کار دى او بشپړ کتاب ليکلو ته اړتيا لري؛ چي زه ګومان نه کوم زما لوستونکي به ډېره علاقهک ورسره ولري. زه به کوښښ وکړم چي د ابن بطوطه د سفرنامي هغو برخو ته اشاره وکړم چي زياتره زموږ د هيواد او شاوخوا نيژدې سيمو سره اړه لري.
د مضمون په سر کي به دوو ټکو ته اشاره وکړم چي لومړى خو د ابن بطوطه د ژوند په باره کي ليکوالانو او څېړونکو او د ده د سفرنامي مترجمينو د هغه د ژوند د حالاتو په باب تقريباً هيڅ شى نه دي اضافه کړي او ابن بطوطه پخپله هم تقريباً هيڅ نه دي ويلي او چي هر څه ليکل سوي دي بس همدغه سفرنامه ده، چي هغه هم ټول د ده د خولي نکل دى. دوهم دا چي ابن بطوطه په ۷۰۳ هجري قمري کي زېږېدلى دى او په ۷۲۵ هجري قمري يعني په تقريباً دوه ويشت کلنى کي يې سفرونه پيل کړي او دېرش کاله وروسته وطن ته ستون سوى دى. ابن بطوطه، د سفر له پيل کولو څخه مخکي، موږ ته د خپل ژوند، تحصيلاتو، استادانو، که يې درلودلي وي، او سابقي په باره کي تقريباً هيڅ نه دي پرى ايښي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړنی شک چې د ابن بطوطه په سفر نامه کې پيدا کيږي هغه د ده خط السير دی. مثلا دی غواړی چې هند ته ولاړ سي. کله چې نيشاپور ته ورسيږي نو بيا له هغه ځايه بسطام ته ځي او بيا له بسطام څخه قندوز او بغلان ته سفر کوي. لوستونکو ته دي معلومه وي چې بسطام د نيشاپور لوېديځ ته په څه باندي دري سوه ميلي کي پروت دی. او دا فاصله د اوښ او آس په قدم، لړترلږه د لسو ورځو سفر دی. ځکه چې دی د شرق خواته روان دی نو يې خپل سفر او تکليف له کوم سببه پرته دوه چنده کړی دی. له بسطام څخه تر قندوز او بغلان پوري زيات و کم زر ميله فاصله ده. ابن بطوطه بايد دا فاصله لږترلږه په يوه مياشت کې وهلي وي. مګر هغه په دې باره کې هيڅ نه وايي او مخامخ قندوز او بغلان ته ځي. او وايي چې له بسطام څخه د هند خير؟ له لاري قندوز او بغلان ته ولاړو. له بغلان څخه، پنجهير او له هغه ځايه کوهستان بشای؟ ته ځي (ص ۴۷۳) . ايراني مترجم کوهستان بشای ته ليکلي دي چې بشای د يوې قبيلې نوم دی چې د پنجهير د درې په جنوبي برخو کې اوسېدله او تر ډېره وخته مسلمانان نه سول او د دوی د هستوګني سيمه يې کافرستان باله. ص ۵۷۹

ابن بطوطه وايي د بشای په کوهستان کې د شيخ صالح زاويه وه چې « اتا اوليا» يې باله. او اتا په ترکي ژبه کې پلار ته وايي. دې شيخ ته يې دري سوه کلن شيخ وايه او وايي چې دري سوه پنځوس کاله يې ژوند کړی دی.... خلکو ويل چې په هرو سلو کالو کې د شيخ غاښونه او وېښتان له سره نوي کيږي.

ابن بطوطه له پنجشير څخه نورستان ته تللی دی. که دا ريشتيا هم، د ايراني مترجم د توضيحاتو سره سم کافرستان وي نو هلته د يوه مسلمان شيخ، چې پاچاهان او ګدايان يې ليدلو ته راځي، زاويه څرنګه جوړه وه؟ او دا معلومه نه ده چې د ابن بطوطه هدف کوم ځای ته رسېدل دي چې له پنجشير څخه نورستان او له نورستان څخه پروان ته ځي.

له پروان څخه لوګر ته، وروسته غزني ته او له غزني څخه بيرته کابل ته ځي. وايي «کابل پخوا لوی ښار وو او اوس يوازې يو کلی پاته دی. د عجم يوه طايفه ده چې افغانان نوميږي په دغه ښار کې اوسيږي. افغانانو غرنۍ سيمي او تينګي درې نيولي دي او ډېر قوي خلک دي او اکثر لاري نيسي. هلته يو لوی غر دی چې د سليمان د غره په نوم ياديږي او د افغانانو پاچا پکښې ناست دی. له کابل څخه ګرماش؟ ته ولاړو چې د دوو غرونو په منځ کې يوه قلا ده او افغانانو هلته لاره نيولي ده. افغانان د غرونو په لمنو کې وه او زموږ د غشيو له ګوزارونو څخه وتښتېدل. زموږ سره څلور زره آسونه وه او شمېر مو زيات وو.» ص ۴۷۵

لومړی خو چې سړی هند ته ځي نو له قندوز او بغلان څخه لوګر، وروسته غزني او بيا کابل ته نه ځي. بايد چې لومړی کابل، وروسته لوګر يا غزني ته تللی وای او بيا له دې لاري د هندوستان خواته وتلی وای. معلومه ده چې ابن بطوطه دروغ وايي. د افغانستان له جغرافيي سره بلد نه دی او دا نومونه يې هسي اورېدلي دي. په کابل کې يا کابل ته نيژدې د سليمان غر څه کوي چې هلته د افغانانو پاچا ناست دی. د افغانانو پاچا څوک دی؟ افغانانو په هغه وخت کې هيڅ پاچهي او هيڅ قلمرو نه درلود. ابن بطوطه وايي افغانانو لاره نيولي وه او موږ له هغوی سره جنګ وکړ او څلور زره آسونه راسره وه. په دې حساب نو دا قافله نه وه او يو لوی لښکر وو. او کله چې ابن بطوطه د افغانانو له غرونو څخه تيريږي بيا نو هيڅ وخت د دې څلورو زرو آسونو نوم پر خوله نه راوړي. دا آسونه د چا وه او د څه مقصد لپاره روان وه او څه سوه؟ دا هم نه ده معلومه چې دا څلور زره آسونه، چې په زرهاوو اوښان او نور څاروي به هم ورسره وه له کومه ځايه له ابن بطوطه سره ملګري سوي او يا دی ورسره ملګری سوی وو. ځکه چې د دونه لويې قافلې يا لښکر اداره کول، او په دومره غرنيو سيمو کې تېرول، سپه سالارانو او صاحب منصبانو ته ضرورت لري.

که له کابل څخه د سليمان تر غره پوري د پښتنو پاچهي وه نو بيا د ابن بطوطه سره ملګري قافله يا لښکر، چې د ده په قول څلور زره آسونه ورسره وه، څرنګه تېر سول او څرنګه يې په يوه نښته لاره صافه کړه. ځکه تاريخ شاهد دی چې د پښتنو په غرونو کې له جلال الدين اکبر څخه تر اورنګزيب، نادرشاه او انګريزانو پوري څوک پرته له باج ورکولوڅخه تېر سوي نه دي. ابن بطوطه وايي چې وروسته موږ ششنغار؟ ته ورسېدلو. فارسي مترجم په خپلو توضيحاتو ص ۵۶۴ کې دا نوم هشتنګار بللی دی چې وايی د پيښور د شمالمغرب په شپاړس ميلي کې پروت دی. ابن بطوطه وايی له ششنغار څخه يوې لويې صحرا ته، چې د پنځه لسو ورځو په مزل اوږده پرته ده، ننوتلو. ( په دې سيمه کې دونه لويه صحرا يوازې د ابن بطوطه په سفرنامه کې ليدلای سو او دا ګواکې يوازې د ده جغرافيه حکم کوي. ) ابن بطوطه وايی«له دې صحرا څخه موږ بحمدالله سلامت ووتلو او له خپلو ملګرو سره پنجاب ته ، چې هماغه آب سند دی، ورسېدلو. دا پنج آب په يوه لويه رود خانه کې تويږي او هغه سيمي خړوبوي. ( ابن بطوطه د آب سند او پنجاب په توپير نه پوهيږي او د پنجاب له نامه څخه يې داسي اټکل کړی دی چې ګواکې دا به يو لوی سيند وي. ؟) د ۷۳۴ کال د محرم د مياشتي هلال مو وليدی او خبرنګارانو د هندوستان پاچا ته زموږ له احوال څخه خبر ورکړ.» اړکړی جلد ص ۴۷۶ ګواکې دا ټوله فاصله يې په نهو کالو کې وهلې ده.

ابن بطوطه خپل دغه اوږده سفرونه په دوه ويشت کلنۍ کې پيل کړي او چې پنجاب ته رسيږي نو يودېرش کلن ځوان دی. خو چې هر ځای ته د ده د رسېدلو اطلاع رسيږي نو ډېر لوی لوی اميران يې مخې ته راوزي. سوغاتونه، نغدي پيسې، کورونه، غلامان او کنيزاني ورکوي او دی موږ ته نه وايي چې له ده سره څه کمال موجود وو چې د هند د سلطان محمدتغلق په څېر يوه لوی او مقتدر سلطان يې دونه عزت کاوه چې د ډهلي د قاضي په حيث يې مقرر کړ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

نه یوازي یي د ډهلی قضا ور ورسپارله بلکه چین ته یي د خپل سفیر په حیث واستاوه. ( په حقیقت کي د محمدشاه تغلق دربار ته هیڅ وخت د چین سفیر نه دی راغلی او نه محمدشاه تغلق څوک هغه هیواد ته د سفیر په حیث لیږلی دی. )

ابن بطوطه وایی « په لومړی ورځ چي مي د ډهلي له ښار څخه بهر له سلطان سره ولیدل او ملک الندما؟ زما د معرفي کولو په ترڅ کي زما نوم اعلان کړ او زه یي د مولنا بدرالدین په نوم ور وپیژندلم نو سلطان زما لاس په خپل لاس کي ټینګ ونیوی او ما ته یي وویل چي بیغمه اوسه ستا په برخه کي به دونه مرحمت وکم او دونه انعام به درکړم چي وطنداران دي خبر سي ټول به در پسي راسي.» دوهم جلد ص ۱۴۶

ابن بطوطه وایی « په دوهمه ورځ چي مي سلطان ولیدی نو ماته یي پنځه زره دیناره را وبخښل. د کاله یي دوولس زره دیناره تنخوا را ته وټاکله او پنځه کلي یي زما په نامه کړل چي د دوو کلیو نوم یي جوزه او ملک پور وو.» ص ۱۴۸

ابن بطوطه وایی «بل ځل چي د سلطان دربار ته ورغلم. ملک کبیر راته وویل چي تعظیم وکړه چي سلطان ته د ډهلي د قاضي په حیث مقررکړی یي. تا ته یي له کاله دوولس زره دیناره تنخوا ټاکلي او دونه جایداد یي په تیول کي درکړی دی چي په همدغه اندازه حاصلات لري. دوولس زره دیناره یي نور درته بخښلي دي چي انشاءالله سبا به یي له خزاني څخه درکړو. یو آس یي د زین او کیزي سره درکړی او یو خلعت یي درکړی دی چي پر سینه او شا باندي یي محراب خامک سوی دی. سلطان راته وویل چي فکر مه کوه چي د ډهلي قضاوت اسانه کار دی؛ بلکه دا زموږ په نظر یو له تر ټولو مهمو منصبونو څخه دی. ما ورته وویل چي زه خو مالکي مذهبه یم او د ډهلي خلک حنفي مذهبه دي؛ ما ته به مشکلات پیښ سي. سلطان راته وویل چي بهاءالدین مولتاني او کمال الدین بجنوري به ستا مرستیالان وي او مشوره به درکوي... ته زما د زوی غوندي یي. ما ورته وویل چي ستاسي بنده او چاکر یم. ده په عربي جواب راکړ ویل یي نه ته زما بادار او مخدوم یي او دا یي د تواضع له مخي وویل. » ص ۱۵۰

سلطان له ابن بطوطه سره په ژوند کي لیدلي نه دي. حتی د هغه خبري یي اورېدلي نه دي او حتی په دي هم نه دی خبر چي هغه د کوم ځای دی؛ خو هغه ته، چي ایله د یودېرشو کالو زلمی دی، نه یوازي دونه انعامونه ورکوي چي د هغه وخت لا څه چي د اوس زمان په حساب یي تصور نه سي کېدلای او د ډهلي قضاوت ورسپاري او لا ورته وایی چي ته زما بادار او زه دي خدمتګار یم. ابن بطوطه د خپلو خاطراتو او سفرنامي په جریان کي هیڅ وخت نه دي ویلي چي دی بالاخره څه کمال لري. په مقابل کي سلطان محمدشاه تغلق په تاریخ کي پیژندل سوی سړی دی. هغه د هند له ډیرو مدبرو، هوښیارو او ضمناً یو له تر ټولو ظالمو انسانانو څخه وو. هغه، د ابن بطوطه د اظهاراتو په خلاف، ملا نصرالدین نه وو چي هر چا ته یي په زرګونو دیناره بېله هیڅه ورکول او په دي نامه هیچا نه دی پېژندلی.

ابن بطوطه، د خپلي سفرنامي په جریان کي، زیاتره په شیخی او تقوا تظاهر کوي. او حتی یو ځل خو وایي چي یو وخت  سلطان ورباندي بدګومانه سو او تر نظارت لاندي یي ونیوی. ابن بطوطه ووېرېدی خو دی وایی«خدای الهام راته وکړ چي حسبی الله و نعم الوکیل ووایه. په هغه ورځ مي دري دېرش زره واره دغه ذکر وکړ. شپه مي په هغه ځای کي تېره کړه او تر پنځو ورځو پوري مي روژه ونیوله او هره ورځ مي یو قرآت ختماوه او فقط په اوبو مي روژه ماتوله. پنځه ورځي وروسته مي روژه مات وکړ او بیا مي څلور ورځي نور هم روژي ونیولي او وروته له هغه چي شیخ ووژل سو نو ما هم نجات پیدا کړ. » ص ۱۶۷

سره له هغه چي د خدای له خوا مستقیماً د الهام اورېدلو ادعا کوي؛ مګر یو ځل دونه بېشرمه کیږي چي پخپله وایي څو کسانو ته مي وویل چي هرکله زه د سلطان حضور ته تللم تاسي به د دربار په دروازه کي ما ټینګ ونیسی او راته وایاست به چي تر څو پوري زموږ پوروونه رانه کړي تاته اجازه نه درکوو چي د سلطان حضور ته ورسي. په ټاکلي ورځ هغو کسانو، هغه چي ابن بطوطه ورته ویلي وه، هغسي وکړه. له هغوی څخه اسناد وغوښتل سول او ټولو خپل اسناد تقدیم کړل. ابن بطوطه وایي زه ګواکي د هغوی پنځه پنځوس زره دیناره پوروړی وم. سلطان هم وخندل او ویل یي دا قاضي دی د وخته یي د خپلو اسنادو غم خوړلی دی او ماته یي پنځه پنځوس زره دیناره راکړل. ص ۱۵۴

په زړه پوري خبره دا ده چي فقیه او مورخ مولنا ضیاءالدین برني، چي له سلطان محمدتغلق سره دونه نیژدي وو چي په سفر او حضر کي به یي ملګری وو او سلطان خو ځله د خپلو اجرآتو او حتی د خپل شخصیت او په خلکو کي د محبوبیت او نه محبوبیت په باب خصوصي مجلسونه ورسره کړي وه، په خپل کتاب، تاریخ فیروزشاهي کي، چي د سلطان محمد د پاچهی په باب ښه مفصل بحث لري، د دې دونه مشهور او نازولي سړي نوم یو ځل هم نه دی یاد کړی. دا له امکانه لیري خبره ده چي د برني په څېر یو سترګه ور مورخ دي د ابن بطوطه په څېر مشهور او سلطان ته نیژدې سړی له نظره وغورځوي. دغه راز ابن بطوطه هم د سلطان په دربار کي د برني په څېر مشهور مورخ نوم نه یادوي.

ابن بطوطه د خپلي سفرنامي په یوه ځای کي لیکي چي د غزني پاداشاه موسوم په بهرام  د هند د پادشاه د لیدلو لپاره ډهلي ته راغی. ... دوهم جلدی ص ۹۲

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ابن بطوطه د خاطراتو په باب دا پوښتنه چانه ده کړې چي د غزني پاچا بهرام شاه څوک وو چي دی یې یادونه کوي. بهرام شاه غزنوي، چي د ۳۵ یا اووه دېرشو کالو په شاوخوا کي یې په غزني کي سلطنت وکړ؛ پر غزني باندي د علاءالدین جهانسوز له حملې څخه وروسته هند ته وتښتېدی اویو کال وروسته بیرته غزني ته ستون سو او له څو کالو وروسته په ۱۱۵۷ میلادي، یا ۱۱۵۲ میلادي کي ( چي مورخین اختلاف پکښې لري) وفات سو. او ابن بطوطه د بهرام شاه له وفات څخه څه کم دوه سوه کاله وروسته د ډهلي دربارته ورغلی دی. دا کوم بهرام شاه دی چي ابن بطوطه یې د غزني پاچا بولي؟ دا پوښتنه ځکه چا نه ده کړې چي ښایي د ابن بطوطه په سهوو کي به یې شمېرلي وي.

مخکي مو وویل چي د ابن بطوطه د ټولي سفرنامې په باره کي لیکنه کول یو بشپړ کتاب غواړي او د یوه مضمون له حوصلې وتلی کار دی. دونه به ووایو چي د ابن بطوطه په حق کي هغه مشهوره مقوله چي وایي « جهان گشته بسیار گوید دروغ » ډېر ښه صدق کوي. ابن بطوطه، د چین د پاچا لپاره، د سلطان محمد تغلق له خوا له زرو تنو محافظینو سره، د جنوب پر لور، یعني د سمندر خواته، روانیږي او پر سلو آسونو، سلو غلامانو او سلو کنیزو برسېره دونه تحفې او سوغاتونه ورسره دي چي ایله په یوه لویه کښتۍ کي ځای سي. ابن بطوطه، له دې ټولو سوغاتونو سره، د ده په قول، د ډهلي په سل میلي کي، له کفارو سره چي، زر تنه سپاره او درې زره پیاده دي مخامخ کیږي. ښې ډېري ورځي، چي شمېر یې نه دی معلوم جنګونه کوي. بالاخره له خپلو ملګرو څخه جلا کیږي او د کفارو لاسته لویږي او د طالع او بخت په زور، له هغو کسانو څخه چي د ده د وژلو تکل یې کړی دی، خلاصیږي او تښتي. په داسي حال کي چي په دې وخت کي د سلطان محمد تغلق سلطه تر دکنه رسېدلې ده او په پنځه سوه میلي کي څوک د هغه د عسکرو په مقابل کي د درېدلو جرأت نه سي کولای. خو د ابن بطوطه له بدې طالع له کفارو سره مخامخ کیږي. ابن بطوطه څه باندي یوه هفته وږی تږی په دښتونو او ځنګلونو کي ګرځي؛ تر څو چي بالاخره د القلب الفرح یا دلشاد په نوم یو ولی الله ورباندي پیښیږي، چي دا پیش بیني هم ده ته پخوا یوه بل ولی الله کړې ده، او د مسلمانانو تر یوه کلي پوري یې رسوي. او مسلمانان یې بیرته د خپل سفارت په ملګرو پسي رسوي. ابن بطوطه جلد دوم ص ص ۱۷۷-۷۸

ابن بطوطه له منځني ختیځ څخه د ایران او هند پر لور د سفر په ترڅ کي، په عراق کي د واسط ښار ته رسیږي. له هغه ښار څخه لیري د شیخ رفاعي زیارت کوي. په دغه سیمه کي پر یوه خانقاه باندي پیښیږي چي زرتنه؟ درویشان پکښې را ټول سوي دي. « هغوی د ماخستن له لمانځه څخه وروسته ذکر پیل کړ. وروسته ساز او سندرې پیل سوې. او د لرګیو څو بارونو ته یې اورونه واچول. درویشان د رقص په وخت کي اورته ننوتل، ځیني به په هغه اور کي رغړېدل او ځینو به اور په خوله کړ او وبه یې خوړ؛ تر څو چي اور کرار کرار خاموش سو. ځینو به د لویو مارانو سرونه په خوله کي ونیول؛ په غاښونو به یې سرونه ورڅخه پرې کول. » ابن بطوطه لومړی جلد ص ص ۲۲۷-۲۸ ابن بطوطه، په دې ترتیب څو ځله د درویشانو سره مخامخ کیږي. تصادفاً چي هر ځای درویشان ویني هغوی له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته اورونه بلوي او په اور ننوزي. ابن بطوطه یو ځل د مالدیو په ټاپوګانو کي د دغه راز درویشانو سره مخامخ سوی دی او وایي درویشان لوڅي پښې په اور کېږدېل او ځینو یې اور لکه حلوا داسي خوړ. تر څو چي اور خاموش سو. دوهم جلد ص ۲۳۴

زه یقین لرم چي دا به د ابن بطوطه د کوم پرېشانه خوب یا لېونیو چرتونو محصول وي. په ویښه او په سم فکر د داسي پیښو لیدل امکان نه لري.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ